AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۶/۰۸/۲۳

# لا تراوسه (*)

زه له سره مستانه وم ، مستانه یم لا تراوسه
په دې کار کې يګانه وم، يګانه يم لا تراوسه
میخورئ کي مي يارانو ، هيڅ ثاني او جوړه نشته
مست او رند ډېرجانانه وم، جانانه يم لا تراوسه
ګرانه لاردعاشقي کې، څوک رسواشي څوک بدنامه
خوزه يومخ افسانه وم، افسانه يم لا تراوسه
له عمرونو اومودو مي، جارربدل له اشنا کاردی
د يارمخ ته پروانه وم، پروانه يم لا تراوسه
له لومړئ ورځي يي ماته، بس مستي مينه رازده کړه
نور له هرشي بېګانه وم، بېګانه يم لا تراوسه
زړه مي مالامال دی خلکه، له خوږو رازو د ميني
د رازونو خزانه وم، خزانه يم لا تراوسه
چي پيدا شوم له ازله، ما دا خپل ځان دی ليدلی
چي په مينه زولانه وم، زولانه يم لا تراوسه
مستانه به پس له مرګه، زما د تن خاوري داوايي
چي زه مست وم، مستانه وم، مستانه يم لا تراوسه

(*) د خوشحال ختک پرلار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ